PROPERTY OF ACKU

دغه رنگ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت
اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

الهی فرمان

او هر څوک چې ونیسي شیطان دوست بې له الله نو په تحقیق ښکاره زیان یې وکړ، وعده کوي (شیطـان) لـه دوی سره او په باطلو امیدونو کې یې غورځوي. او نه کوي وعده له دوی سره شیطان مګر په فریب، ځای ددوی جهنم دی او نه به مومي دوی (شیطان تابعان) له دې دوزخه د تېښتې هیڅ ځای. (سورة النساء: ۱۱۹ - ۱۲۱)

نبوي ارشاد

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:
دوه وږي لیوان د وزو یوې رمې ته دومره نقصان نشي رسولې څومره چې د مال حرص او حسد د مسلمان دین ته نقصان رسوي، حسد د مسلمان نیکی داسې له منځه وړي لکه چې اور لرګي له منځه وړي. (ترغیب)

شهادت دویم کال، ۷۸ مه ګڼه، چهارشنبه ۱۳۸۹ هـ ل د تله ۲۱ مه د۱۴۳۱ هـ ق د ذوالقعدة ۵ مه د۲۰۱۰ م د اکتوبر ۱۳ مه

رئیس جمهور حامد کرزی:

مذاکرات غیر رسمی با طالبان صورت گرفته است

امریکا رسانه ها:
حامد کرزی رییس جمهور افغانستان تایید کرده است که از چندی به این سو، مذاکرات غیر رسمی با طالبان ادامه داشته است. هدف این مذاکرات، خاتمهء جنگ ۹ ساله در افغانستان است.
زمانی شبکهء تلویزیونی سی ان ان در مورد گزارش واشنگتن پوست در بارهء مذاکرات سری به سطح عالی با طالبان پرسید، رییس جمهور کرزی گفت که حکومت افغانستان با طالبان همان گونه که یک هموطن با هموطن دیگرش صحبت می کند، مذاکرات داشته است.
رییس جمهور کرزی هم چنین گفت که مذاکرات به شکل رسمی در کدام آدرس مشخص صورت نه گرفته است، بلکه تماس های خصوصی از مدت زمانی به این سو ادامه داشته است.
هفتهء گذشته روزنامهء واشنگتن پوست گزارش را به نشر رساند که مذاکرات سری میان حکومت افغانستان و نماینده گان شورای کویته، که رهبری آن را ملا عمر رهبر گروه طالبان به عهده دارد، جریان دارد.
روزنامه این موضوع را به نقل از مقامات افغان و عرب که از افشای نام شان خود داری کردند، گزارش داد.
به نوشتهء آژانس خبری فرانس پرس، این موضوع در حالی به نشر رسید که برهان الدین ربانی رییس جمهور سابق افغانستان، به حیث رییس شوارى عالی صلح که هدف آن مصالحه با طالبان است، تعیین شد.
رییس جمهور کرزی به شبکهء سی ان ان گفته است، حالا که شورای عالی صلح به فعالیت خود آغاز کرده است، مذاکرات با طالبان به شکل جدی و رسمی ادامه خواهد یافت.
رییس جمهور افغانستان هم چنین تاکید کرده که تا حال تماس رسمی با هیچ یک از شخصیت های شناخته شدهء طالبان، گرفته نه شده است.
ولی رییس جمهور کرزی ابراز امیدواری کرده است که تماس های رسمی آغاز شود.
قرار است شورای عالی صلح گفتگو ها با طالبان شورشی را آغاز کند، گروه که از سال ۲۰۰۱ میلادی به این سو تلاش داشته است تا حکومت کابل را سر کوب کند.
شورای عالی صلح بعد از جرگهء ملی مشورتی صلح در ماه جون ایجاد گردید و به تاریخ هفتم ماه اکتوبر، رسماً افتتاح شد.

له طالبانو سره د خبرو په باب مبالغه کېږي "هولبروک"

تاند ویب پاڼه:
د افغانستان او پاکستان لپاره د امریکا خاص استازي د افغانستان له حکومت سره د ځینو طالبانو تماسونه تایید کړل خو وېې ویل چې په دې برخه کې یو څه مبالغه کېږي.
د افغانستان ولسمشر حامد کرزي له سي این این تلویزیون سره په یوه مرکه کې له طالبانو سره د افغانستان د حکومت تماسونه تایید کړل.
ده په عین حال کې وویل چې له طالبانو سره دا تماسونه د منظمو رسمي تماسونو بڼه نه لري چې تاکلې ادرس ولري بلکې تر ډېره غیررسمي شخصي تماسونه دي چې له ډېرې مودې راهیسې دوام لري.
په دې هکله د ریچارد هولبروک د څرګندونو ....

پاتې ٤ مخ

د لیندا ګروف د وژل کېدو په باب د شکونو له څرګندېدو وروسته د تحقیقاتو امر

تاند:
وروسته له دې چې د بریتانیا صدراعظم ډېویډ کامرون نن وویل چې په افغانستان کې بریتانوی مرستندویه ممکن د خپلو یرغمل نیوونکو له لوري نه، بلکې د ژغورونکو په بمي برید کې وژل شوې وي، په افغانستان کې د نړیوالو ځواکونو عمومي قومندان ډېویډ پیترایس وویل چې دا ممکنه نه ده چې د میرمن ګروف د وژل کېدو دقیق علت معلوم شي.
خو له دې سره سره پیترایس په کونړ کې د برمته شوې بریتانوی د وژل کېدو د علت په باب د تحقیقاتو امر ورکړ.
لیندا ګروف د جمعې په ماښام د کونړ ولایت په نورګل ولسوالۍ کې هغه مهال ووژل شوه

پاتې ٤ مخ

القاعده په نړۍ کې له نویو تاکتیکونو سره

امریکا، لوی افغانستان :
واشنګټن پوسټ ورځپاڼې په وروستی ګڼه کې د القاعده د فعالیتونو په اړه په یوه مطلب کې لیکي، چې دې شبکې خپل تاکتیکونه بدل کړي.
القاعده نوې ستراتیژي غوره کړې، دا ستراتیژي د منظمو پلان شوو پراخو حملو پرځای، په واټونو کې پرجګړو اتکا کوي.
واشنګټن پوسټ ورځپاڼه په دې اړه د یکشنبې د ورځې په ګڼه کې لیکي، په اروپا کې د تیرې اونۍ صحنې په ۱۹۷۰ لسیزه کې د شمالي ایرلند د بیلتون غوښتونکې وسله والې ډلې اي. ار. اې د قوت او په ۱۹۹۰ لسیزه کې په الجزایر کې د ترهګرګرۍ د حالت یادونه وکړه.
بکینګهام مانۍ او ترافلګر چوک له پولیسو ډک و، په پاریس کې د ایفل برج د موقت وخت لپاره څوځلې له خلکو تخلیه شو او نورو سیمو کې هم د تروریستي بریدونو د مخنیوي لپاره ورته اقدامات وشول.
واشنګټن پوسټ لیکي، په هرصورت دغه ګواښ د تروریزم د یوې نوې بڼې ښکارندویي کوي، د امریکا د استخباراتو اداري سي. ای. اې او اروپايي هېوادونو خبرداری ورکړ، چې القاعده په فرانسې، جرمني او بریتانیا کې د خلکو د وژولو لپاره د حملو طرح جوړه کړې او سیلانیانو په تیره بیا امریکایانو ته یې خبرداری ورکړ، چې اروپايي هېوادونو ته د سفر په وخت کې ډیر بیداره واوسي.
د دغو د بریدونو د پلان د عملي کولو په اړه زیات جزیات خپاره نه شول، خو د ډیرو په باور دا داسې پلان نه و لکه القاعده

پاتې ٤ مخ

وزیر دفاع ایتالیا:

طیاره‌های ایتالیا باید اجازه بمباران افغانستان را داشته باشند

خبر گزاري فارس:
وزیر دفاع ایتالیا اعلام کرد وي در حال بررسي صدور فرمان براي بمباران افغانستان به وسیله طیاره های ایتالیاست.
"ایگنازیو لا روسا" روز یکشنبه به شبکه خبري "اسکاري تي جي۲۴ تي‌وي" گفت در صورتکیه پارلمان ایتالیا حمایت کند در حال بررسي صدور فرمان بمباران افغانستان به وسیله طیاره‌هاي ایتالیا در افغانستان است.
اظهارات وزیر دفاع ایتالیا پس از آن مطرح شد که وي پس از کشته شدن چهار سرباز ایتالیایي در افغانستان خود را مانند امریکا محق براي بمباران این کشور جنگ زده مي‌داند.
وي گفت در عین حال مشارکت ایتالیا در ماموریت ناتو نمي‌تواند از یک روز به روز دیگر تغییر یابد و

بقیه در صفحه ۳

په افغانستان کې د امریکا نهه کاله او لاسته راوړنه یې

دریم مخ

تفرقه، بزرگترین ضربه بر پیکره جامعه اسلامی

صفحه دوم

عبدالفتاح جواد:

عافیه او ریډلي؛ دوه ښځې دوه برخلیکه!!



که په نیویارک کې د محکمې قاضیانو په بې ګناه مسلمانې میرمن عافیه صدیقي ۸۶ کاله بند و خیژاوه نو دا یې د خپل غربي طبیعت او حقیقت یو انځور نړۍ ته وړاندې کړ، ځکه چې دغه په لویدیځ وال تمدن او فرهنګ کې د ښځې سره د غربیانو دود او چلند په ګوته کوي، دا خو اسلام دی چې خپلو پیروانو ته د ښځې په اړه د ځانګړې درناوي امر کوي، دا خو قرآن دی چې د ښځو په نوم ځانګړې سورت لري او په هغه کې د ښځو د حقونو، میراث او له هغوی سره د انصاف کولو په اړه لارښوونې لري، همدغه آسماني کتاب دی چې یو بل سورت یې د مریم (علیکم السلام) په نوم نومولی دی، اسلام دی چې مسلمانان یې مکلف کړي دي چې د مور درناوی وکړي ، د میرمن سره ښه چلند وکړي او د لور روزنې او پالنې ته فوق العاده پاملرنه

پاتې ٤ مخ

جیمز جونز فکر نمی کند؛ ناتو در افغانستان ناکام شود

آزادی رادیو:
جیمز جونز مشاور سابق امنیت ملی امریکا می گوید، فکر نمی کند که ماموریت ناتو در افغانستان ناکام شود، زیرا کشورهای عضو ناتو تعداد زیاد سربازان خود را به افغانستان فرستاده اند و منابع زیاد را در اختیار افغان ها قرار داده اند. مهم تر از همه اینکه، صفحهء اخیر ماموریت ناتو در افغانستان تا حال ورق زده نشده است.
مشاور امنیت ملی سابق امریکا افزوده است، باید انتظار بکشیم و ببینیم که دورهء انتقال مسوولیت ها برای خود افغان ها چگونه سپری می شود.
قراراست کشور های عضو ناتو در بارهء نگرانی هایشان از ماموریت افغانستان، در اجلاسی که قرار است به زودی در لیسبون بر گزار شود، بحث کنند.

بقیه در صفحه ۴

د ولسي جرګې د ۲۵ غړیو په شمول ۱۷۰ کاندیدان په درغلۍ تورن شوي

کابل، رسنۍ:
د افغانستان د انتخاباتي شکایتونو کمیسون نن وویل چې د اوسنۍ ولسي جرګې د پنځه ویشت غړیو په شمول ۱۷۰ کاندیدان د ولسي جرګې په انتخاباتو کې په درغلۍ تورن شوي دي.
د انتخاباتي شکایتونو کمیسیون وویل چې دوی د سنبلې له اووه ویشتمې، د انتخاباتو له ورځې، تراوسه پورې (۴۱۴۹) ثبت شوي شکایتونه ترلاسه کړي دي. ثبت شوي شکایتونه پر هغو سربېره دي چې د ټېلفون له لارې دې کمیسون ته شوي دي.
د انتخاباتي شکایتونو کمیسون وايي چې تر نیمايي زیاتو شکایتونو ته، چې جدي دي، لومړیتوب ورکوي او که ثابت شي د انتخاباتو پر وروستیو پایلو اغېز کولی شي.

د دې کمیسون ویاند احمدضیا رفعت په درغلۍ د تورن شویو کاندیدانو نومونه افشا نه کړل خو وېې ویل چې د هغوی له منځه ۱۳۶ د افغانستان د انتخاباتو د خپلواک کمیسون او ۳۹ نور د امنیتي اورګانونو له خوا معرفي شوی دي.
ده همداراز وویل: "د تورن شویو کاندیدانو په منځ کې د اوسنۍ ولسي جرګې پنځه ویشت غړي هم شامل دي. که د هر کاندید پرضد

پاتې ٤ مخ

سرلیکنه

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

د کرزي صیب ژړا

تیره اونۍ ولس مشر ښاغلي حامد کرزی پخپل یوه وینا کې په ژړا شو، ستونې بنده او له سترګو نه یې اوښکې وبهیدلې، الله حاضر دی چې زما هم ورسره ژړا راغله او له هغه نه مې زیات وژړل. زما او دهغه په ژړا کې صرف دومره فرق و چې ما دهغه پر ژړا وژړل، خو دهغه د ژړا په اړه پوه نه شوم چې ولې او په کوم اساس یې ژړلي وو؟ په هر حال ژړا که واقعاً له درد او سوخت نه وي هغه د ستایلو ده دداسې ژړا باید قدر وشي او په مشکلاتو کې ورسره مرسته.

ډېرو خلکو د کرزي صیب د ژړا په اړه ډېر څه وویل چا هسې سیاسي ژړا وباله او چا د درد او صداقت ژړا، په دې کې دواړه احتماله نه شي رد کیدلې ځکه چې د زړونو مالک یواځې یو الله دی او همغه د هر چا په نیت ښه پوهیږي. خو زما په اند د کرزي صیب ژړا د درد ژړا وه ځکه چې په سیاسي ژړا او حقیقي ژړا کې آسمان او زمکه فرق وي. موږ په دې نه پوهیږو چې دهغه د ژړا په وقت کې دهغه په سترګو کې کومه صحنه مترسمه شوې وه، د ندامت او ملامتي هغه کوم انځورو چې د دومره خلکو په مخکې ژړا ته یې مجبور کړ؟

کیدای شي کرزی صیب په خپلو مخکنیو تیروتنو ژړلي وي او یا هم د خپلو هغو دوستانو له جفا نه ګیله من شوي وي چې د دوستي په جامه کې ورته هر وخت پښې وهلی دي. دا هم کیدې شي چې پخپل بې وسي ژړلې وي او آرمان یې کړې وي چې زه ولې دومره بې وسه او بې واکه یم، دا هم کیدلې شي چې د خپل هېواد په مستقبل او بد حالي ژړلې وي او یا هم د خپل بې اتفاق ولس پر بې اتفاقي او راتلونکي نسل خراب او نامعلوم مستقبل دهغه زړه نرې کړي وي، ځکه خو یې وویل چې زه غواړم زما زوی میرویس پخپل هېواد کې بستر شي، همدلته سبق ووایي، همدلته ډاکټر شي او همدلته مړ شي.

دا هم کیدلې شي چې هغه خپل ځان د الله په عدالت کې تش لاس او ګنهګار لیدلې وي، دهغه جل جلاله د حقیقي پاچاهی په وړاندې پر خپل ناتواني او بې حسي ژړه ولي وي، یو امکان دا هم کیدلې شي چې خپل اقتدار یې د زوال په حالت کې لیدلې وي او دا آرمان ورته ورغلې وي چې ای کاش ددغو څو ورځو اقتدار له پاره مې د ګناهونو بوج پر اوږو نه وای بار کړی.

په هر حال موږ په کرزي صیب نیک ګمان کوو او دهغه ژړا په نیک فال نیسو. که ددین، ملت، خاوره او د هېواد د خیر ښېګڼې له پاره یې ژړلي وي نو موږ ورته دعا کوو چې ناصر او قوي ذات دی ورسره مرسته وکړي که پر خپلو مخکنیو تیروتنو ژړلې وي الله دې ورته بخښنه وکړي، که د خپل ولس پر بې اتفاقي او د افغانستان پر وراني او ویجاړی ژړلې وي نو الله تعالی دې پخپل فضل او کرم دغه بې اتفاقه ولس یو موټی کړي. که په افغانستان کې د بهرنیو ځواکونو پر شتون او دهغوی پر ظلمونو ژړلې وي نو لوی الله دې دغه خاوره دهغوی له شتون او ظلمونو څخه پاک کړي. کرزی صیب د یو مسلمان هېواد ولس مشر دی، دهغه اسلامي مسؤولیت دا دی چې همیشه د اسلام، ملت او خاورې د خدمت له پاره هلې ځلې وکړي، دهغه پر سر د امانت او دیانت داري لوی بوج پروت دی، دهغه حقیقي بری په دې کې رانغښتل شوې چې د الله تعالی ددین بشپړه مرسته وکړي او یو ګام هم دهغه په خلاف اوچت نه کړي، په خپلو ټولو کارونو کې خوږ نبي محمد صلی الله علیه وسلم او راشده خلفاء خپل مقتدی او پیشوا وګرځوي. که نه نو نه ژړا څه کولې شي او نه هم لښکرې، لکه چې رحمن بابا هم ویلی دي:

که خدای درسره مل نه وي رحمانه
که لښکری درسره وي یک تنها یې

عبیدالله صافی

که اخلاص وي نو سوله راتلی شي

مسلمان هغه دی چې د ژوند ټول ورځني مسائل د اسلام د سپېڅلو احکامو مطابق تیروي. جنګ هم د قرآن کریم او نبوي احادیثو د ارشاداتو په رڼا کې پرمخ بیایي او سوله هم د اسلام د سپېڅلی دین له غوښتنو سره سم پرمخ وړي.

هیڅ مسلمان له پاره روا نه ده چې پخپلو ټولو مسائلو او کړنو کې د اسلام پر ځای خپله خوښه وچلوي، هر څوک چې د خپلې خوښې د چلولو ضد کوي هغه په اسلامي ټولنه کې د اسلام په جامه کې غټ منافق دی.

دا څنګه کیدلې شي چې د قرآن کریم او نبوي احادیثو په شتون کې دی څوک ریښتیني او واقعي سوله ونه پیژني د حق او باطل ترمنځ دې توپیر ونه کړې شي، کلونه کلونه د اختلاف په اور کې خپلې وینې توی کړي خو حق او باطل پکې ونه پیژني، د ملامت او سلامت ترمنځ په فرق پوه نه شي؟ دا خو نعوذ بالله منها پخپل کامل دین ملنډی وهل دي او پخپل لاس په دې ګواهي ورکول دي چې زموږ دین نیمګړی دی، په دې کې د حق او باطل ترمنځ توپیر نه دی شوې، ملامت او سلامت پکې نه دی ښودل شوی. په الله قسم چې داسې هرګز نه دی د الله جل جلاله په دین کې هر څه څرګند دي، د حق او باطل ترمنځ ښکاره فرق دی، ظالم او مظلوم په ګوته شوې، د ژوند په ټولو اړخونو رڼا اچول شوی او داسې کومه ګوښه او مسئله نه ده پاتې چې اسلام ورباندې رڼا نه وي اچولې. دا چې موږ سولې او تفاهم ته نه رسېږو، دا چې موږ پخپلو کې موافقه او اتحاد نه کوو ددې ښکاره مطلب دادی چې زموږ زړونه لا د حقایقو منلو ته چمتو نه دي، د حق په وړاندې تسلیمېدو ته تیار نه دي، زموږ ایمان لا د پوخ والي هغه معراج ته نه دی رسیدلې چې له چون چرا پرته د حق په وړاندې خپل سرونه کیږدو، زموږ پر نفسونو اوس هم د شیطان حکمراني ده، موږ اوس هم د الله جل جلاله له دین نه باغي یو او پر خپلو نفساني غوښتنو مو قابو نه دی راوستې.

که دولت او مخالفین واقعاً د سولې په نوم یو بل نه تیر باسي او د زړه له کومې پخپلو کې سوله غواړي نو بیا د اسلام په رڼا کې د سولې په وړاندې هیڅ خنډ نشته، حق او باطل دواړه د لمر په څیر څرګند دي، هر څوک ښه پوهیږي چې مشکل چېرته او په چا کې دی؟ څوک له حق څخه انحراف کوي او څوک د حق تحقق غواړي؟

د اسلام او مسلمانانو ګټه په څه کې ده؟ د خاورې او استقلال ګټې په څه کې نغښتل شوي دي؟ یو واقعي اسلامي او خپلواک حکومت په کومو شرایطو کې منځ ته راتلې شي؟ د پردیو له تسلط او فشار نه د خلاصون اصلي لاره څه ده؟ افغانان په کومو حالاتو کې د ګدایي او محتاجي له ژوند نه نجات ترلاسه کولې شي، د وحدت او ورور ګلوي په صف کې کله او د کومو اصولو په خپلولو سره ودریدلې شي؟ دا ټولې هغه پوښتنې دي چې که سترګې ورباندې پټې نه کړی شي او له عارفانه تجاهل نه کار وانخستل شي نو له هر افغان سره ددې معقول ځواب شته، حکومت او مخالفین یې کولې شي چې په لږ وخت کې موافقې ته ورسیږي. خو که حالت د پخوا په څېر وي او هسې د سولې په نوم سیاست بازي او خپل ولس ته دوکه ورکول وي نو ددې خبرې هیڅ امکان نشته چې د سولې دا هلې ځلې مثبتې پایلی ولري. البته د افغانستان ځوریدلي ولس چې د ځو لسیزو راهیسې د مشرانو د ناروا سیاست او غیر اسلامي دریځ له کبله ډېر کړیدلي دي له حکومت او مخالفینو څخه کلکه غوښتنه کوي چې د خدای په خاطر نور له خپلو هغو دریځونو څخه تیر شئ چې د اسلام، خاورې او ولس په ګټه نه دي، یواځې هغه دریځ خپل کړئ چې د اسلام په سپېڅلي دین کې ښودل شوي دي او د هغوی په خپلولو سره یقیني او تلپاتې سوله منځ ته راځي، الله ته وګورئ پخپل ژوند کې دغه طلایي چانس له لاسه مه ورکوئ، د الله او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم اطاعت په ژوند کې کیدلې شي دا د عمل دنیا ده او آخرت د مکافاتو د ترلاسه کولو. مرګ راتلونکی دی، هر څوک به د مرګ خوند څکي او د الله جل جلاله په وړاندې به د خپلو خپلو عملونو حساب به ورکوي.

تفرقه، بزرگترین ضربه بر پیکره جامعه اسلامی

نجیب الله ملک زاده محصل صنف دوم پوهنځی اقتصاد پوهنتون کابل

قرن ۲۱ را می‌توان برای مسلمانان دنیا "قرن الحُزن" نامید. چرا که از هر سو و در هر گوشه‌اي از کره خاکي ظلم و ستم کفار و مشرکین بر مسلمانان افزوده شده است و در هر جبهه یی به موفقیت‌هایي دست یافته‌اند و با این شکل مسلمانان را زیر چکمه هاي خویش درمی آورند.ودرقلوب مومنان این عصرمحبت مال؛ فرزند؛ زن؛ ماشین؛ خانه ... رامستولی می گرداند چنانچه بـگومگوهای را درمیان مسلمانهای ضعیف العقیده گسترش داده اند و حتی در مساجد می‌شنویم که بعضی‌ها می گویند: کجاست خدا که مسلمانان رایاری کند ! و چرا به این همه دعا و فریاد جوابی نمی دهد ... بسیاري ازمسلمانها دچار شك و تردید گشته‌اند که مگر خداوند متعال در قرآن کریم بارها نفرموده است؟ که اسلام بر کفر غالب می آید وکفر رخت خود را جمع می کند. "و بگو: حق آمد، و باطل نابود شد یقیناً باطل نابود شدنی است ! ". (إسراء / ۸۱)

پس چرا امروز اسلام در جبهه‌های مختلف مغلوب می‌شود؟ !

اگر برای چند لحظه مسلمانان امروزی را بررسی نمائیم ،که چه اندازه از احکام خداوند را در زندگی شان پیاده کرده‌اند، چند بار خواست نفس و تمناي درونی خویش را قربان خواست خدا و رسولش نموده‌اند. آیا تمام کارهاي مسلمانان مطابق دستورات قرآن و سنت است؟ آیا در روش زندگی خود رسول الله صلي الله علیه وسلم را اسوه و الگوي خویش قرار داده‌اند؟ ! و صدها سؤال دیگر. که دلیل شکست مسلمانان امروزی هم درقدم اول نداشتن ایمان کامل وقوی به وجود خداوند سبحان است ودرقدم دوم صادق نبودن در عشق و محبت رسول الله صلی الله علیه وسلم می باشد که خیلی ها خود را عاشق رسول‌الله صلی الله علیه وسلم میدانند، اما اعمالشان اعمال "ابوجهلی" است درقدم سوم پیروی نکردن از سنت‌هاي رسول الله صلی الله علیه وسلم ودرقدم چهارم اهمیت و عظمت دادن دنیا درقلب هایشان می باشد چنانچه خود رسول الله صلي الله علیه وسلم فرموده است: براي هر قومي فتنه‌اي آمد و آنها را تباه ساخت، فتنه امت من دنیا می باشد که می ترسم آنها را از پاي درآورد. درقدم پنجم ترك امر به معروف و نهي از منکر وبالاخره پیروي و اتباع از شیطان وچنگ نزدن به قرآن است درحالیکه خداوند ج می فرماید: "و همگی به ریسمان خدا چنگ زنید و پراگنده نشوید ".

واین خطابی است از طرف خداوند سبحان به امت اسلامي که باید با هم متحد و هم‌صدا باشند، و از تفرقه و چنددستگي به شدت بپرهیزند.

بسیار دردآوراست که‌امروز دشمنان‌اسلام شبانه روز براي از بین بردن مسلمانان برنامه‌ریزي مي کنندوجوانانرابه اختلافات فقهي و نظریات گوناگون مذهبي‌مشغول نموده اند ولی مسلمانان تابه الحال هیچ مخالفتی ازخودنشان نداده وخودراهیچ مسؤول نمیدانند بیائید اندکی با انصاف و به دور از هر گونه تعصبي بیاندیشیم و بنگریم، آیا در این وضعیت کنوني، گاه آن است که خود را مشغول اختلافاتي مذهبی نمائیم که هیچ سود و نفعي برای مان ندارد !عده‌اي وقت خویش را به این سپري مي‌نمایند که دست‌ها را در وقت نماز بالاي سینه بگیرند یا زیر ناف و یا غیر آن !!!

عده‌اي وقت خویش را صرف آن مي‌نمایند که نماز تراویح ۸ رکعت است یا ۲۰ رکعت و هر کدام از دو طرف بر ضد یکدیگر می نگارند !!!

خلاصه بسیارند از گروه‌ها و احزابی که با هم درگیرند بدون آنکه متوجه حربه‌ها و دسیسه‌هاي دشمنان باشند که از این نوع اختلافات و جدایي‌ها چه استفاده‌هایي مي‌نمایند و چقدر خوشحال اند که مسلمانان این گونه از هم گسسته‌اند.

من به عنوان یکي از جوانان امت رسول الله صلي الله علیه وسلم از تمامي افراد به هر گروه و حزبی که وابسته و علاقمند هستند، عاجزانه درخواست می نمایم که از مطرح نمودن اختلافات به شدّت بپرهیزند و با حفظ عقاید و اندیشه‌هاي خویش ، در کنار دیگر برادران مسلمانشان در یك صف قرار گیرند تا بیشتر از این، دشمن بر پیکره جامعه اسلامي ضربه وارد نکند و بیشتر از این قلب رسول الله ـ صلي الله علیه وسلم ـ ناراحت و غمگین نشود.

په افغانستان کې د امریکا نهه کاله او لاسته راوړنه یې

محمد خلیل

له نن نه نهه کاله وړاندې د سپتمبر په یوولسمه نېټه د امریکا په نړیوال تجارتي برجونو ناڅاپي حمله وشوه چې په ترڅ کې دوه برجونه په بشپړ ډول وران او د خاورې په ډیرۍ بدل شول. دا یرغل دومره ناڅاپي او حیرانوونکي و چې پخپله د امریکایان عقل یې هم مبهوت کړی و. په دې هېڅوک نه پوهېدل چې یرغل کوونکي څوک دي او د چا له خوا ترسره شوې دی؟ واقعاً چې دا ناڅاپي یرغل ډېر بوګنوونکي او ځورونکي وو تېوله نړۍ ګوته په غاښ وه چې امریکا غوندې پرمختللي هېواد کې داسې پېښه څنګه رامنځ ته شوه؟! ددغې بوګنوونکې پېښې په اړه مختلفې راى او نظریې وړاندې شوی چا څه وویل او چا څه. پخپله امریکا کې هم تراوسه پورې په دې اړه داسې د نظر یووالې او اتفاق نه تر سترګو کیږي چې ددغې پېښې اصلي مرتکبین په ګوته شوې وي. ګویا د امریکا په نړیوال تجارتي برجونو یرغل داسې یوه معما ده چې ددې له طراحانو او عاملینو پرته بل هېڅوک ورباندې نه پوهیږي. اصل حقیقت چې هر څه وي هغه به راتلونکې تاریخ ته وسپارو، یوه نه یوه ورځ به دا معما ضرور حل کیږي او ددې اصلي عاملین به خامخا په ډاګه کیږي، خو هغه څه چې د لمر په څیر څرګند دی هغه پر افغانستان د امریکا او ناټو غړو هېوادو بربنډه پوځي یرغل دی چې نهه کاله وړاندې یې په دې شک او بهانه ترسره کړه چې د امریکا پر تجارتي برجونو پلان جوړوونکي مشران اسامه بن لادن او دهغه ملګري په افغانستان کې پټ دي. د امریکایانو دا پوځي یرغل دومره له قهره ډکه او انتقامي و چې وچ او لانده یې دواړه وسوځول دهغه وخت ولس مشر ډبلیو بش دا د مسلمانانو او صلیبیانو ترمنځ جګړه وبلله او خپلو قواو ته امر وکړ چې د حتمي برۍ د ترلاسه کولو په خاطر دې له هېڅ ډول زور کاروني څخه ډډه ونه کړي، همدا لامل و چې امریکایي پوځیانو په افغانستان کې هغه څه وکړل چې تاریخ یې نه شي هیرولی.

پکار خو دا وه چې امریکایي چارواکو د جوش پر ځای له هوش نه کار اخستی وای او په سړه سینه غور او پلټنه یې کړې وای چې ددغې پېښې تر شاه د چا لاس دی؟

خو ډېر افسوس چې د قوت نشه او غرور د هغوی عقل ناکاره کړه او هغه څه ته یې لاس واچاو چې انسان وژني او تاوان پرته بل هېڅ ګټه یې نه درلود.

ددغه یرغل انجام زموږ په وړاندې دی، امریکایي او ناټو ځواکونو په افغانستان کې پوره نهه کاله د وینې او اور لوبه وکړه، په زرګونو بې ګناه اولسي وګړي یې د اور او باروتو په لمبو کې وسوځول ډیرې ښځې کونډې او بورۍ کړې، زرګونو ماشومان یې یتیمان او بې پلاره کړل، د ډېرو خلکو جونګړې ورانې ویجاړې کړې، پخپله هم په زرګونو تعداد کې د خپل بل کړي اور په لمبو کې وسوځیدل، د افغانستان په دښتو او غرونو کې ستړی ستومانه شول، آرام ژوند یې سرګردان او د غم په ګرداب کې لاهو شول، خوب او سکون یې وتښتید او په رواني ناروغیو کې اخته شول، امریکا او هغه هېوادونه چې دهغوی په اصطلاح د ترهګرو د ښکار له پاره راغلي وو پخپله د ښکار په جال کې ونښتل، د خپلو نالایقیو او مغرورانه پالیسیو دلاسه خپل دښمنان نور هم زیات کړل، پرخلاف یې د جنګ ساحه پراخه، مالي او ځاني تاوان په سور سیلاب کې لاهو شول. د جنګ کوم اور چې د خپلو ګټو د تأمین له پاره بل کړی و دهغه لمبې اوس پخپله له هغوی نه تاوی شوې دي او لګیا دي د ګټې پر ځای مسلسل تاوان کوي، اقتصاد یې کمزوری او د خپلو ولسونو تائید یې له لاسه ورکړی دی، لنډه دا چې په افغانستان کې نهه کلنه روانه جګړه ملا ماتوونکې تاوان په لور روانه ده، د مسلمانانو او غیر مسلمو ترمنځ د بې باورۍ ترخه فضا یې رامنځ ته کړې ده ددې جګړې جاري ساتل او وربانديې اصرار کول له حماقت پرته بل هیڅ معنی او مفهوم نه لري، دا چې څومره اوږدیږي نو تاوان یې هم زیاتیږي او لمنه یې هم نورو هېوادو ته غځیږي. پخپلو سترګو وینو چې ددغې جګړې لمبې تر پاکستان، هندوستان، تاجکستان، ازبکستان، یمن، سومالیا، نایجیریا او د نړۍ نورو ډېرو هېوادو ته رسیدلې دي، د سیمې ټول ولسونه یې اندېښمن کړیدی او ګرده نړۍ له عدم استحکام سره لاس او ګریوان ده، ښکاره خبره ده چې که چېرته ددغې جګړې لمنه ژر تر ژره ټوله نکړی شي نو له څه شک پرته داسې یو ناورین به سر اوچت کړي چې هیڅوک به دهغه د قابو کولو توان نه لري او هر څه به خاورې ایرې شي.

دا سهی ده چې د امریکا پر نړیوال تجارتي مرکزونو حمله او دهغوی نړول یو انساني غلطي و، هغه چې هر چا ترسره کړې له غلطي پرته بل څه نشي ویل کیدای، خو په مطلق ډول څه دقیقو او محسوسو شواهدو پرته د چا تورنول څکه د منلو نه دي چې د انصاف په دنیا کې هېڅوک په پټو سترګو ددې منلو ته نه چمتو کیږي، دا چې امریکا صرف د شک او وهم په بنسټ دده پړه د القاعدې پر تنظیم اچولې او دهغه له مخې پر افغانستان پوځي یرغل کړیدي دا هم یوه لویه غلطي ده چې هیڅ قانوني جواز نه لري.

د افغانستان د ځوریدلي ولس او د نړۍ ټولو امن خوښو ولسونو جدي غوښتنه داده چې امریکا دی نور د ګمان او وهم په بنسټ د خپلې پیل کړی نهه کلنی جګړې د ختمولو لپاره صادقانه ګامونه اوچت کړي او داسې ناعاقبت اندیشو کارونو څخه په کلکه ډډه وکړي چې د لا نورې تباهی او انسان وژنې پرته بل هیڅ ګټه نه لري. که لوی الله انسان ته قهر ور کړیدې نو د رحم له نعمت نه یې هم نه دی محروم کړی. انسان قهر ته لږ او رحم ته زیات ضرورت لري، نه ښایي د رحم لوی نعمت د قهر په لمبو کې وسوځول شي، که چېرته نهه کاله وړاندې هم امریکا د قهر پر ځای د رحم ماده په کار اچولی وای او شک یې پر یقین نه وای غالب کړې نو دومره لویه تباهي به هرګز نه و شوی او د غوږ ګټلو پر ځای به د سر بایللو نوبت نه و راغلی. د سپتمبر په یوولسمه پېښه کې د دریو زرو کسانو د مړینې په سر به نور زرګونه بی ګناه افغانانو او زرګونو امریکایي او ناټو پوځونو خپل ژوند له لاسه نه و ور کړي، په ملیاردو ډالر به نه و مصرف شوي او د زرګونو په شمیر کې د افغانانو کورونه به نه وو ویجاړ شوي. اوس هم وخت شته چې د جوش پر ځای له هوش نه کار واخستلې شي او داسې لارې چارې ولټول شي چې د جګړې اور په داسې اوبو مړ کړی شي چې بیا لپاره د تازه کېدو ټول امکانات له منځه لاړ شي، دا ټول کارونه هله ممکن کیدی شي چې طاقت او زور لروونکي هېوادونه خپل زور د بې ځای له استعمالولو نه په کلکه ډډه وکړي، پخپل حق قناعت وکړي او د بل چا د حق پښو لاندې کولو څخه پرهیز وکړي، ټول انسانان او دهغوی حقوق او عزت محترم وګڼي، د کبر او غرور نه لاس په سر شي، خپل پاڅګه او دولت د چا د غلامولو پر ځای دهغه د ښه او خوشحال ژوند لپاره ولګوي، خپل نظریات او نظام په زوره پر بل چا د منلو ناروا هڅه ونکړي، دچا دین، عقیده، مذهب او زمکني بشپړتیا ته په سپکه ونه ګوري، په زوره ټولې نیول شوي سیمې خپلو حقدارو ته خوشې کړي څومره چې خپل ځان او خپل ولس محترم ګڼي همغسې د نورو انسانانو ځان هم محترم وګڼي. که نه نو په انساني ټولنه کې به د جګړو لړۍ همداسې روانه وي او د آدم اولاد به د اور او باروتو په لمبو کې په بې رحمانه توګه وژل کیږي.

طیاره‌های ایتالیا باید اجازه...

طیاره‌هاي ایتالیا باید در صورت لزوم قادر به بمباران باشند.

بنا بر اعلام وزارت دفاع ایتالیا، نظامیان ایتالیایي شنبه در مسیر بازګشت از مأموریت اسکورت ۷۰ موتر حمل و نقل غیرنظامي، در دره ګلستان واقع در ولایت فراه در جنوب غربي افغانستان مورد حمله مسلحانه قرار ګرفتند که بر اثر آن چهار نظامي کشته و یک نفر به شدت زخمي شد.

بنا بر این ګزارش، با کشته شدن این نظامي ایتالیایي، شمار تلفات نظامي ایتالیا در افغانستان از زمان استقرار نظامیان این کشور در افغانستان در سال ۲۰۰۴ تاکنون، به ۳۴ نفر رسیده است.

ایتالیا به عنوان پنجمین مشارکت کننده و تأمین کننده نیروي نظامي در جنګ افغانستان در حال حاضر سه هزار و ۴۰۰ نظامي خود را در افغانستان مستقر کرده است که بیشتر این نظامیان در غرب افغانستان مستقرند.

دولت ایتالیا در نظر دارد تا پایان سال جاري میلادي شمار نظامیان خود در کشور جنګ‌زده افغانستان را به چهار هزار نفر افزایش دهد.

لیکنه: استاذ مصطفی سباعي
ژباړه: ډاکتر غنچه ګل ارمان

د حضرت عمر رضی الله عنه ژوند په څو کرښو کې

- د رسول الله صلی الله علیه وسلم له بعثت څخه دیرش کاله وړاندې یې نړۍ ته سترګې وغړولې.
- د رسول الله صلی الله علیه وسلم د بي بي او د مؤمنانو د مور، حضرت حفصه، پلار دی.
- په ۵۵ کلنی کې د مسلمانانو خلیفه وټاکل شو او د خلافت موده یې ۱۰ کاله او شپږ میاشتې وه.
- د خلافت په موده کې یې اسلامي لښکر د شام، عراق، فارس، مصر، برقه، لویدیز طرابلس، آذربایجان، نهاوند او ګرګان سیمې فتحه کړې او د بصرې او کوفې د ښارونو بنسټ یې کیښود.
- عمر رضی الله عنه لومړی کس وو چې د هجري تاریخ بنسټ یې کیښود او له هغه یې کار واخیست. همدا راز لومړی کس وو چې د تراویح لمونځ یې په جمع دود کړ.
- عمر رضی الله عنه د حضرت عایشې په کوټه کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم او ابوبکر صدیق رضی الله عنه د قبرونو تر څنګ خښ کړای شو.
- د دولسو بچیانو پلار وو چې شپږ یې زامن او شپږ یې لوڼه وې.

نوم او نسب یې:

نوم یې عمر، او د پلار نوم یې خطاب بن نفیل بن عبدالعزی دی. نسب یې په کعب بن لوئی کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم له نسب سره یو ځای کیږي.

کنیه یې ابوحفص ده. حفص د زمري بچي ته ویل کیږي. دا کنیه پرې رسول الله صلی الله علیه وسلم د بدر د غزا پر وخت کیښوده. لقب یې فاروق دی چې د ده د مسلمانیدو په ورځ ور ته رسول الله صلی الله علیه وسلم ورکړ. الله جل جلاله د ده په مسلمانولو سره اسلام پیاوړی او حق یې له باطل څخه په ډاګه کړ.

ځانګړتیاوې او د ماشومتوب چاپیریال یې:

په داسې یوې کورنۍ کې پالل شوی چې په ځواکمنتیا او برم کې یې نوم درلود. د جاهلیت پر وخت د قریشو سفیر او استازی وو. کله به چې د قریشو او د نورو ټبرونو تر مینځ جنجال پیښ شو، دی به یې د خپل استازي او ویاند په توګه ور لیږه. کله به چې د نورو ټبرونو کسانو ترې سیالۍ ته د دانګلو غوښتنه او یا پرې د ځان لوړ ګڼلو څرګندونه وکړه، د ټکر له پاره به یې دی ورلیږه.

- دنګه ونه، غنمي رنګ او ښایسته څیره یې درلوده.
- پښې او لاسونه یې پیاوړي او ځواکمن وو.
- د ځواکمنې تنې او لوړ غږ څښتن وو او د سر په مخکنۍ برخه یې ویښتان نه درلودل.

د جاهلیت په وخت کې:

- د قریشو له تر ټولو ځیرکو او پیاوړو ځوانانو څخه وو. له مسلمانیدو وړاندې یې د لهولعب په بنډارونو او دودیزو عبادتونو کې ګډون کاوو.
- شراب یې خوړل او د نورو په څیر یې د بتانو عبادت کاوو.
- مسلمانان به یې ډیر ځورول.
- له لیک او لوست سره بلد وو.

د حضرت عمر رضی الله عنه مسلمانیدل:

د بعثت په شپږم کال مسلمان شو. د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مبعوث کیدلو پر وخت دیرش کلن وو. له مسلمانیدو وروسته یې هماغه ډول کافران وځورول لکه له مسلمانی مخکې یې چې مسلمانان ځورولي وو.

هو، د عمر په مسلمانی الله جل جلاله د رسول الله هغه دُعا قبوله کړه چې ویل یې: خدایه ! اسلام ته له دې دوو کسانو (ابی جهل ابن هشام یا عمر بن خطاب) څخه تا ته د غوره یوه په وسیله سرلوړي ویخښه !

له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د هغه ژوند:

له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د ژوند پر وخت د ایمان او یقین د څښتنانو او د رسول الله د منونکو کسانو له ډلې څخه وو. د اسلام د دښمنانو په وړاندې یې سخت او پریکنده دریځ درلود. د حق په وینا کې پیاوړی او د هغه څه پلي کولو ته چې د الله له لوري یې حکم کیده، پوره ژمن وو.

عمر رضی الله عنه په ټولو غزاګانو کې له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ګډون کړی. رسول الله به د هغه ستاینه کوله. د بیلګې په ډول:

الله جل جلاله حق ته د عمر پر ژبه او زړه کې ځای ور کړی، او د ده په وسیله یې حق له باطل څخه بیل کړی.

حضرت عمر د پاخه فکر او نظر څښتن وو. په درې وختونو کې د قرآن له نازلیدو وړاندې حق وینا د هغه له خولې وتلې چې بیا وروسته د آیت په وسیله تائید شوې.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وفات پر وخت ډیر غمجن شو تر دې چې له اندیښنې یې ویل: رسول الله نه دی وفات شوی بلکې له خپل رب سره د مناجات له پاره تللی او بیرته راځي.

اعلان یې وکړ هر چا چې وویل رسول الله وفات شوی څټ به یې پرې کړم.

حضرت عمر رضی الله عنه د رسول الله د ژوند پر وخت او وروسته، له مشرکانو او منافقانو سره په دښمنۍ کې نوم درلود. چا به چې رسول الله ته بې احترامي کوله، عمر به بې څنډه ویل: ای د خدای رسوله پرې مې ږده چې سر یې له تنې جلا کړم.

رسول الله د هغه په جنت ته تلو شاهدي ورکړې او یو له هغو لسو کسانو څخه دی چې په ژوند ور ته د جنت زیری ورکړی شوی.

د خدای په وړاندې د هغه د مقام له پاره همدومره بس دي چې رسول الله ترې تر وروستیو شیبو خوښ وو.

د حضرت ابوبکر د خلافت پر مهال:

د ابوبکر صدیق رضی الله عنه د خلافت پر وخت د هغه ریښتونی وزیر او سلاکار وو. د هم ده له برکته وو چې الله جل جلاله د ټولو خلکو زړونه له ابوبکر سره بیعت ته یو موټی کړل.

هماغه پریکنده توب یې چې د رسول الله پر وخت درلود، د ابوبکر صدیق د خلافت پر وخت یې هم وساته. ....

پاتی ٤ مخ

شهادت اوونیزه

خپروونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز څښتن: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله کامه وال
مرستیا ل مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)
داړیکي شمیره ۰۷۰۸۱۹۸۵۸۲
ډیزاین: خواجه وحیدالله
د کتنپلاوي تر څارنې لاندې
آدرس: دحزب اسلامي دفتر سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه

په شمال کې د ناامنیو زیاتېدل درې لاملونه لري "بلاټز"

آزادي راديو:
په افغانستان کې د ایساف یا سوله ساتو خواکونو ویاند جنرال بلاټز د هېواد په شمال کې د امنیت خرابوالي تاییدوي
په افغانستان کې د ایساف یا سوله ساتو خواکونو ویاند جنرال بلاټز د هېواد په شمال کې د امنیت خرابوالي تاییدوي او وايي، چې دا وضیعت ځیني عوامل لري.
دی وايي کله چې د افغان او بهرنیو خواکونو د هڅو په نتیجه کې د هېواد په ناامنو سیمو او په تیره په جنوب کې پر طالبانو زور راشي، دوی بېخایه کیږي او شمال ته مخه کوي.
همدارنګه جنرال بلاټز وایي، افغانستان ته د ازبکستان د اسلامي جنبش د غړو راننوتل بل علت دي، چې د هېواد په شمالي ولایتونو کې ناامني خپره شي. دی وايي:
"له بده مرغه ناامني وضیعت مخ پرخرابېدو دي، زه ورته درې دلیله لرم یو دا چې په ډېرو سیمو کې د طالبانو پرضد زموږ له بریدونو وروسته، دوی شمال ته ځي، مثلا له کندهار، هلمند او شرقي سیمو څخه.
بل دلیل افغانستان ته له ازبکستان څخه د جنبش اسلامي د شورشیانو ننوتل او بل دا چې موږ تر ډېره وخته پورې په شمال کې کافي عسکرنه لرو."
جنرال بلاټز چې له خبریالانو سره یې یوځای د کلیو د پراختیا د وزارت له مرستیال سره خبرې کولې، په هیواد کې یې د دې وزارت له خوا د بیارغاونې او پراختیایي پروژو چارې وستایلې.
د کلیو د پراختیا د وزارت مرستیال ویس برمک وویل، په وروستیو اته نهو کلونو کې د دې وزارت د پراختیايي پروګرامونو د څنډ عمده ستونزه ناامني ده: "د افغانستان پراختیايي اداري هڅه کوي چې پراختیايي مرستې خلکو ته ورسوي خو په دې لاره کې عمده ستونزه ناامني ده، چې اوس نوره هم زیاته شوې ده."
د ایساف د ځواکونو ویاند د هیواد په شمال کې د ناامنۍ په هکله په داسې حال کې څرګندوني کوي، چې د جمعې په ورځ د تخار ولایت د تالقانو ښار په یوه جومات کې د یوې چاودنې له امله د کندز د والي په ګډون شاوخوا پنځوس تنه مړه او ټپیان شول.

د حضرت عمر رضی الله عنه ژوند ...

ابوبکر په خپله هم د نرم زړه څښتن وو او همدا لامل وو چې په ډېرو ځایونو کې یې د حضرت عمر رأیه پلې کوله.

عمر د خپل خلافت پر وخت:

حضرت عمر رضی الله عنه په داسې وخت کې د خلافت او د مسلمانانو د لارښوونې له پاره وټاکل شو، چې اسلام د بل هر وخت په پرتله د ده په څیر انسان ته سترګې څارلې.
- دا څکه چې مسلمانان له روم او فارس سره په سختو جګړو کې ښکیل وو.
- هغو سیمو چې له وړاندې د مسلمانانو له خوا فتحه شوې وې، داسې پاک زړو چارواکو ته اړتیا لرله چې د خلکو په اړه د حضرت عمر له پاکی، پریکنده توب، نوښتګری او پیاوړتیا څخه پیروي وکړي.
حضرت عمر رضی الله عنه د خلافت واګې په لاس کې ونیولې او د اسلام د تاریخ زریني پاڼې یې ولیکلې.
هغه جنګونه یې چې مسلمانانو د فارس او روم له هیوادونو سره د ابوبکر د خلافت پر مهال پیل کړي وو، د مسلمانانو په بریالیتوب او سوبې سره بشپړ او د مصر، شام، عراق او فارس هیوادونه یې فتحه کړل.
د خپل نبوغ او پوخوالي په وسیله یې د حکومت چارې منظمې کړې چې له رسول الله وروسته یې په تاریخ کې ساری نه لیدل کیږي. داسې کسان یې د وګړو پر واک وګومارل چې د پیاوړتیا، زړه سوي، نرمی، پریکنده توب، عدالت او زغم ځانګړتیاوې پکې په یو وخت راټولې شوې وې.
د هجرت په ۲۳ کال د لوی اختر میاشتې په ۲۶مه نیټه د چهارشنبې په ورځ د کعب الاحبار یهودي، هرمزان مجوسي او جفینه مسیحي د توطئې په پایله کې د ابولؤلؤ مجوسي له خوا د رسول الله د مسجد په محراب کې د سهار لمانځه پر مهال شهید کړای شو.
انالله وانا الیه راجعون
الله دې پر عمر ورحمیږي او د اسلام په خاطر د هغه د ټولو سرښندنو او هلوځلو غوره بدل دې ورکړي. رضی الله عنه
له اصلاح آنلاین ویب سایت نه په مننه

له طالبانو سره د خبرو په باب ...

جزییات عصمت څاروان اوروي:
د افغانستان او پاکستان لپاره د امریکا د متحدو ایالتونو خاص استازی وایي چې امریکا د افغانانو د پخلاینې د هلوځلو ملاتړ کوي خو باور لري چې د افغانستان د حکومت او د طالبانو د استازو ترمنځ د پټو خبرو په باب په وروستیو خپرو شویو راپورونو کې مبالغه شوې ده.
ریچارد هولبروک د دوشنبې په ورځ په برلین کې وویل ؛ د افغانستان ولسمشر حامد کرزي ښکاره وویل چې د ده حکومت د طالبانو له یوشمېرغړیو سره په تماس کې دی.
هولبروک ،چې یوشمېر ژورنالستانو اود جرمني سیاسي مشرانو ته خبرې کولې، پر دې ډول تماسونوتر اندازې زیات ټینګار په وړاندې خبرداری ورکړ او ویې ویل: "په دې راپورونو کې تر هغه څه چې حقیقت لري ، مبالغه شوې."
تېره اوونی واشنګټن پوسټ ورځپاڼې راپور ورکړی وو چې د افغانستان د حکومت او طالبانو د استازو ترمنځ پټې خبرې روانې دي.دې ورځپاڼې ته افغان او عربي سرچینو د نوم د نه ښودلو په شرط ویلي وو چې په دې خبرو کې د حقاني شبکه نه ده شامله خو د کوټې د شورا ،چې ملاعمر یې مشري کوي، غړي برخه لري.
له بلې خوا رویترز خبري اژانس وایي په واشنګټن کې د امریکا د حکومت یوه جګپوړي مامور وویل چې له تېرو څو میاشتو راهیسې د افغان چارواکو او طالبانو ترمنځ یولړ تماسونه ټینګ شوي دي.
د امریکا حکومت وایي چې د افغانستان د حکومت او طالبانو د پخلاینې ملاتړ کوي خو شرط دا دی چې طالبان له جګړې لاس واخلي، له القاعده شبکې سره اړیکې وشلوي او د افغانستان اساسي قانون ومني.
د نورو امریکایي چارواکو په شان ریچارد هولبروک هم تېره ورځ په جرمني کې په دې ټینګار وکړ چې امریکا په دې خبرو کې برخه نه لري. ده وویل: "هماغه راز چې ولسمشر کرزي له سي این این سره په مرکه کې په وضاحت وویل ، حقیقت همدا دی چې دوی له ځینو طالبانو سره پر له پسې تماسونه لري.خوموږ په دې خبرو کې ښکېل نه یومګر په دې شرط یې ملاتړ کوو چې ټاکلي حدود په پام کې ونیسي چې مهم دي څکه چې موږ هلته ستراتیژیکې ګټې لرو."
هولبروک ټاکلي حدود توضیح کړل ، ویې ویل: هرڅوک چې د افغانستان له سیاسي سیستم سره یوځای کېږي ، باید له القاعده شبکې سره اړیکې وشلوي،له جګړې لاس واخلي اواساسي قانون ومني په تېره بیا د اقلیتونو او ښځو د حقونو رول ته درناوی وکړي. که څوک دا خبرې مني هغوی ته لاره پرانستې ده.

القاعده په نړۍ کې له نویو ...

چې په ۲۰۰۶ کال د هیدرو په هوایي ډګر کې امریکا ته د تلونکو الوتکو په اړه جوړ کړی و.
القاعده غوښتل چې د یوه منظم پلان له مخې الوتکې یو په بل پسې والوزوي.
خود خبري رسنیو د رپوټونو له مخې په اروپا کې د القاعده د تروریستي حملو پلان هاغسې منظم او پراخ نه و، بلکې غوښتل یې چې د سپکو وسلو په ذریعه په کوچنیو حملو سره له عامه مهمو ځایونو څخه سیلانیان لرې کړي.
واشنګټن پوسټ وړاندې دا پوښتنه مطرح کوي، چې ایا القاعده تخریب شوې ده؟ پیوست یې لیکي نه او په دوام کې یې دلایلو ته په اشاره لیکي، په مومبیي کې د ۲۰۰۸ کال د حملو، د نیویارک په ټایمز چوک کې د روان کال د مې د میاشتې د ناکامې حملې او په اروپا کې د تیرې اوونۍ د تروریستي حملو د پلان افشا کېدو په شمول وروستیو حملو وښوده، چې القاعده نه یوازې تراوسه د عملیاتو توان لري بلکې دا شبکه تراوسه فعاله ده.
د واشنګټن پوسټ په وینا القاعده له افغانستان نه د تکتیکي په شاه تګ وروسته اوس یوې نوې ستراتیژۍ ته شکل ورکړی دی.
د تیرې لسیزې په سر کې القاعده له دې پرته چې په عنعنوي ډول چاودنې ترسره کړي بله لار نه لرله، د ورځپاڼې په وینا په ۲۰۰۲ کال کې په بالي کې ترسره شوې حمله یې ښایي ترټولو ښه بیلګه وي.واشنګټن پوسټ لیکي، د القاعده مشرتابه چې په اوس وخت کې په پاکستان کې محاصره شوی، د منظمو او پرمختللو حملو د پلانولو او تطبیق توان نه لري.د ورځپاڼې په وینا د تروریزم ضد چارواکي او کارپوهان چې د القاعده شبکې دغه تاکتیکي بدلون له نژدې څاري په دې باور دي، چې القاعده په دې کار سره غواړي د ځان لپاره وخت وګټي او هڅه کوي، چې په اروپا او متحده ایالاتو کې د تیرو پرمختللو حملو په څیر د نوو حملو لپاره خپل توان پورته یوسي.
د واشنګټن پوسټ له دې لیکنې سره سم داسې ښکاري، چې د القاعده نوي نسل خپل محدودیتونه درک کړي اوله حقیقي وسایلو او امکاناتو څخه په استفادې غواړي خپلو اهدافو ته ځانونه ورسوي.

جیمز جونز فکر نمی کند، ناتو ...

مشاور امنیت ملی سابق امریکا، به شپیګل آنلاین گفت:
"سربازان امریکایی برای همیشه در افغانستان نخواهند ماند و امریکا در نظر دارد مسوولیت های امنیتی افغانستان را به خود افغان ها واگذار کند."
اما جیمز جونز تاکید کرد که امریکا برای پیشبرد برنامه های انکشافی، بهتر شدن اقتصاد و حکومت داری افغانستان، درین کشور باقی خواهد ماند.
آقای جونز می گوید، حضور امریکا و ناتو در افغانستان فعلاً برای کشور های منطقه نیز سودمند است.
به باور وی، چین ازآن نگران است که نا آرامی افغانستان سبب خواهد شد که ازین کشور به چین مواد مخدر قاچاق شود و مقامات چینایی ازین بابت نگران اند.
وی همچنان گفت:
"افغانستان با ثبات به سود ایران هم است."
مشاورسابق امنیت ملی امریکا در همین حال افزود:
"ما به افغان ها وعده سپرده ایم که در پهلوی زنده گی آرام فرصت های خوب را نیز برای شان مساعد سازیم."
او ابراز امید واری کرد که تا ده سال آینده، افغانستان بتواند به پای خود بایستاد و مسوولیت های خود را خود به عهده بگیرد.
خبرنگار شپیګل آنلاین در مصاحبه اش با جیمز جونز از وی پرسیده است :
"در کوه های هندوکش، چه کسی دشمن است؟"
جونز در پاسخ گفت:
"دشمن تند روانی اند که نه تنها امریکا بلکه اروپا را هم هدف حملات خود قرار می دهند، خشونت را دامن می زنند و زنده گی ما را با خطر مواجه می سازند."
مشاور سابق امنیت ملی ایالات متحدهء امریکا همچنان گفته است، پاکستان در برخی موارد از مبارزه برضد تروریزم حمایت می کند، اما هنوز هم نیاز است تا اسلام آباد در ین راستا گام های را بردارد.
جونز افزود:
"اگر پاکستان می خواهد همکار و هم پیمان جامعهء جهانی باشد، باید ثابت بسازد که در مبارزه با تروریزم جدی است."
مشاور پیشین امنیت ملی امریکا در پاسخ به این سوال که اگر جنگ برضد تروریزم در افغانستان ناکام شود، پاکستان هدف حملهء واشنگتن قرار نخواهد گرفت. وی گفت:
"درین مورد با نظر خوشبینانه باید بگویم که پاکستان با همکاری هم پیمانان بین المللی، زمینه را برای این اقدام مساعد نخواهد ساخت."
اما جیمز جونز گفت:
"ما باید این حقیقت را درک کنیم که اگر با احتیاط عمل نکنیم ممکن تحولاتی رخ دهند که به خاطر آن روابط میان اسلام آباد و واشنگتن آسیب بیند."

د ولسي جرګې د ۲۵ غړيو ...

لګول شوي تورونه ثابت شي، رایې به یې باطلې اعلان شي او په خپله به څارنوالی ته معرفي شي.
د افغانستان د ولسي جرګې د ۲۴۹ چوکیو لپاره څه باندې دوه نیم زره تنه کاندید شوي وو او په څه باندې پنځه نیم زرو (۵۵۱۰) انتخاباتي مرکزونو کې، چې د انتخاباتوپه ورځ پرانستل شول، څه دپاسه څلور ملیونه رایې واچول شوې.
دا انتخابات هم د ولسمشرۍ د انتخاباتو په شان د درغلی او د طالبانو له لورې د ناامنۍ ترسیوري لاندې راغلل. باوري راپورونه وايي چې د ډېرو سیمو خلک ونه توانېدل چې د طالبانو د حملې له ببرې د رای ورکولو مرکزونو ته لاړ شي او دا په داسې حال کې ده چې ګڼ نور مرکزونه له همدې وېرې له سره پرانستل شول.
د ولسي جرګې د انتخاباتو پایلې به تر هغو اعلان نه شي چې پر شکایتونو غور پای ته نه وي رسېدلی.

عافیه او ریډلي؛ دوه ښځې ...

وکړي، اسلامي تمدن دی چې خپل مجاهدین او سپاهیان ددې نه منع کوي چې ان د دښمن سره د مقابلې په ډګر کې هم په ښځو لاس پورته کړي، هغه چې د جګړې په نیت وسله په لاس راغلې ده.
له همدغه ځایه وو چې له لویدیځوالې ژورنالستې ایوان ریډلي سره د طالبانو ښه او غوره سلوک او چلند نوموړې د اسلام مبارکې غیږې ته راوسته او نن یې د یوې اسلامي مبارزې په منبر درولې ده، چې نه یوازې د عافیې صدیقې بلکې د زرګونو ، لکونو او میلیونونو هغو میرمنو نه د دفاع بیرغ یې پورته کړی دی چې په یوه ډول د غربي ښکیلاک له وحشت او بربریت نه زیانمنې شوې دي.
عافیه صدیقي په محکمه کې ناسته وه او په خپلو سترګو یې د انصاف په خونه کې د قاضیانوپه څوکۍ ناستو جلادانو چلند لید او په خپلو غوږونو یې دغه د ظلم او بربریت حکم او پریکړه واوریده، په معصومو شونډو یې د بې وسۍ مګر له غرور نه ډک غبرګون څرګند کړ او ویې ویل: له امریکایانو نه د انصاف تمه حماقت دی.
تمه کیدله چې نوموړې به هم د "وامعتصماه "کړیکه له خولې وباسي خو هغې دغه چم ونکړ او دا څکه چې هغه پوه وه چې معتصم په نړۍ کې نشته، د امت واګې د داسې واکمنانو په لاس کې لویدلې دي چې هغوی د نورو څه چې د ځان او خپلو میرمنو نه د دفاع واک هم نلري (زرداري خپله میرمن ونشوه ګټلای.)
غربیانو له ګوانتامو، ابوغریب او بګرام نه وړاندې هم د بشریت په درناوي پښه ایښې وه او د میرمنو نه یې د "تیشو پیپر "په څیر کار اخیستی دی نو څکه خو له هغوی نه د انصاف تمه یو بې ځایه تصور دی خو پوښتنه داده چې دا په اسلامي هیوادونو کې په پارلمان کې دننه او بهر ناستو طوطیانو او کوترو څه بلا لګیدلې ده چې غومبور نه وهي، هغوی چې تل د "مرد سالاری" پرضد د "جندر" چیچرونه خپروي، نن ولې د یوې کمزورې ، مظلومې او بې وزلې میرمن په دفاع کې واټونو ته نه راووزي، هغه چې جرم یې دادی چې "په امریکایي ځواکونو یې د برید هڅه کړې وه "څکه چې عافیه صدیقي اسلام پلوه ښځه وه نه لویدیځ پلوه.
د استاد ندوي (رح) په یوې لنډې وینا خبره ختموو هغه چې وایي: "د نړۍ له جوړولو وړاندې باید اسلامي امت جوړ کړو ـ له شکلي او سطحي اسلام نه بې حقیقي اسلام ته راوباسو ـ نو کله چې امت جوړ شي، بشریت به په خپله جوړیږي څکه چې امت د بشریت اصلي محور دی.
له اصلاح آنلاین ویب سایت نه په مننه

د لیندا ګروف د وژل کېدو په باب ...

چې ناټو او افغان ځواکونو د یرغمل نیوونکو پرضد عملیات وکړل.
دغو ځواکونو په هماغه لومړیو شېبو کې وویل چې پنځه یرغمل نیوونکي یې ووژل او یو چې ژوندی وو له ځان سره بم والوځاوه او لیندا یې هم ورسره ووژله .
د بریتانیا صدراعظم ډیوډ کامرون وویل چې باید د دې قضیې په اړه پوره پلټنه وشي: "لیندا ممکن د هغه لاسي بم د چاودلو په نتیجه کې وژل شوې وي چې ضربه قوې د ژغورونکو عملیاتو په ترځ کې د یرغمل نیوونکو لور ته غورځار کړی وو.البته دا مسله لا روښانه نه ده او د دې مسلې د څرګندولو لپاره به د امریکا او بریتانیا له لوري تحقیقات پیل شي."
تر کامرون یوه ورځ مخکې د بریتانیا حکومت هم د لیندا د وژل کېدو په باب شک څرګند کړ او ویې ویل چې ښایي نوموړې په هغه ډول نه وي وژل شوې چې ایتلافي ځواکونو ادعا کړې ده.
شپږ دېرش کلنه لیندا د سپتمبر په شپږ ویشتمه په کونړ ولایت کې وتښتول شوه.